مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۹ د چنګاښ دریمه | د ۲۰۲۰ د جون ۲۳مه | ۵۵۵مه ګڼه

# ارګ له خپلې پریکړې په شا شو؛

## ولسمشرغني د رسنيو د تعديل طرحه بېرته له پارلمان راوغوښته



۳

ولې تاوتريخوالی؟!
۲ مخ

د افغانستان اوبه
او د ګاونډيانو اندېښنې
۲ مخ

له افغانستان سره د پيسو نړيوال
صندوق پور ولې دومره رسنيز شو؟
۳ مخ

## نی: د کرونا ويروس له کبله څلور افغان خبريالان مړه شوي او له سلو زيات پرې اخته دي

د افغانستان د ازادو رسنيو ملاتړ کوونکې اداره يا نی وايي چې په دغه هېواد کې د کووېډ-۱۹ ناروغۍ له امله څلور خبريالان مړه شوي او لږ تر لږه سل خبريالان نور په کرونا ويروس اخته شوي دي.
د دغه بنسټ مشر عبدالمجيب خلوتګر ويلي چې د ملي راډيو تلويزيون خبريال نويد عظيمي چې له يوې اونۍ راهيسې په کرونا ويروس اخته شوی و، ورمه شپه ومړ.
د نی دفتر په وينا، له دې مخکې د اريانا تلوېزيون خبريال سليمان يوسفي، د پژواک اژانس کارکوونکی شاه محمد هارون او د باختر اطلاعاتي اژانس خبرياله پروي رفيقي د کووېډ-۱۹ ناروغۍ له امله مړه شوي دي.
خلوتګر زياته کړې چې ښايي په ننګرهار کې يو تن مړه شوي خبريال هم د کووېډ-۱۹ ناروغۍ له امله سا ورکړې وي، خو نوموړی وايي چې دغه پېښه د دوی سره رسماً نه ده ثبت شوې.
له دې مخکې داسې راپورونه خپاره شوي چې د نړۍ د ټولو هېوادونو په پرتله په افغانستان کې، ډېر شمېر خبريالان په کرونا ويروس اخته شوي دي، خو د نی دفتر وايي چې له سلو نه ډېر شمېر افغان خبريالان په کرونا ويروس اخته شوي او يو شمېر يې بېرته روغ شوي دي.
دا په داسې حال کې ده چې د روغتيا وزارت د معلوماتو له مخې، تر دې مهاله په ټول هېواد کې د کرونا ويروس له امله ۵۹۸ تنه مړه شوي او ۲۹۱۴۳ نور پرې اخته شوي دي.

## ملي امنيت شورا: تېره اونۍ په تېرو ۱۹ کلونو کې تر ټولو خونړۍ وه



۲ مخ

ځېره
۴ مخ

## نصرت فتح علي خان

نصرت فتح علي خان د قوالي سبک موسيقۍ شهنشا او په سيمه کې مشهور سندرغاړی دی. هغه په ماشومتوب کې د تصوفي حلقو د موسيقۍ پروګرامونو کې له خپل پلار سره برخه اخيسته او همدلته يې له موسيقي سره سترګې او حواس بلد شول.



## کرنې رياست: په پکتيکا کې د نږدې ۲۰ ميليونو افغانيو په ارزښت د ۳۹ پروژو تړونونه لاسليک شول



په پکتيکا کې د بنوالۍ ځنځيري ارزښت د پراختيا اړونده د ۳۹ پروژو تړونونه د ياد ولايت د کرنې او مالدارۍ رياست، د بنوالۍ د ځنځيري ارزښت د پراختيا سکتوري پروژې او له دغو بنسټونو څخه د پکتيکا ولايت د برخمن شويو بزګرانو او بنوالو ترمنځ لاسليک شوي دي. د پکتيکا د کرنې رياست وايي، چې د دې هوکړې پر بنسټ، د بنوالۍ د ځنځيري ارزښت د ودې او د بزګرانو د اقتصادي ودې په پار، د پکتيکا په مرکز شرنه او د ياد ولايت په يوسف خېل او يحی خېلو ولسواليو کې د نږدې ۱۹ ميليونه او ۳۴۸ زره او ۹۴۵ افغانيو په ارزښت ۳۹ پروژې پلي کيږي، چې پکې د پيازو او کچالو صفر انرژۍ زېرمتونونه او مميزخونې جوړول شامل دي. تر دې وړاندې د کرنې او مالدارۍ وزارت له خوا د کرنيزو محصولاتو د مديريت پروګرام طرحه، د عالي اقتصادي شورا له خوا تاييد او د هېواد ولسمشر محمداشرف غني له خو منظور شوې وه.

## گزارش: ۳۲ دستگاه تنفس مصنوعی از وزارت صحت عامه کشور به پاکستان قاچاق شده اند



بر اساس یک گزارش خبرگزاری پژواک ۳۲ دستگاه تنفس مصنوعی از وزارت صحت عامه کشور به پاکستان قاچاق شده اند.
بر بنیاد سندهایی که به این خبرگزاری رسیده اند، این دستگاه‌ها از وزارت صحت عامه دزدی شده اند و از ۱۸ هزار دالر تا ۲۵ هزار دالر ارزش دارند.
این گزارش در حالی پخش می‌شود که از کمبود وسایل صحی به ویژه دستگاه‌های تنفس مصنوعی برای درمان بیماران کووید-۱۹ در کشور انتقادهای سختی وجود دارند.
در گزارش پژواک ارزش این دستگاه‌های تنفسی ۶۰۰ هزار دالر امریکایی گفته شده است. بر بنیاد این گزارش، معامله خرید و قاچاق این دستگاه‌ها از طریق» وتس اپ» انجام شده است. اما مقام‌های وزارت صحت عامه از بررسی این گزارش سخن می گویند.
معصومه جعفری، معاون سخنگوی وزارت صحت عامه، گفت: «وزارت صحت عامه موضوع دزدی شدن و یا قاچاق ونتلاتور ها را رد می کند تمامی ونتلاتور های که کمک شده اند به ستاک مرکزی وزارت صحت عامه آمده در آن جا ثبت می شوند و بررسی می شوند و به شفاخانه ها ارسال می شوند.»
بر بنیاد این گزارش، یک بازرگان کشور می‌کوشد که این دستگاه‌های تنفسی را از قاچاقبران در پشاور خریداری کند و دوباره به افغانستان برگرداند. در گزارش آمده است که نماینده‌گان قاچاقبران گفته اند که این دستگاه‌ها را یک نهاد به وزارت صحت عامه کمک کرده بود.

Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملګری کړئ

Aksos
کابل دریمه ناحیه، دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## دریځ

### ولې تاوتریخوالی!؟

د افغانستان د ملي امنیت شورا وایي چې تېره اونۍ له تاوتریخوالي ډکه وه چې طالبانو پکې ۴۲۲ بریدونه کړي دي. امنیت شورا وایي چې په دغو بریدونو کې ۲۹۱ امنیتي سرتیري وژل شوي او ۵۵۰ نور ټپیان دي. د ملي امنیت شورا ویاند جاوید فیصل په یوه خبري کنفرانس کې طالبان تورن کړي چې په دغو بریدونو کې یې په یوه اونۍ کې ۴۲ ملکي وگړي وژلي او ۱۰۵ نور یې ټپیان کړي دي. امنیت شورا وایي، له طالبانو د سولې د خبرو له امله د تاوتریخوالي د کمولو تمه وه، خو هغوی برعکس تاوتریخوالی زیات کړی دی. طالبانو په دې اړه څه نه دي ویلي.

دلته څو ټکي د یادونې وړ دي:

لومړی؛ خو تاوتریخوالی او د جگړې دوام د جدي اندېښنې وړ دی. رواني وژنې او جگړه په هېڅ ډول نه توجیه کېږي او بیا په داسې حال کې چې د بین الافغاني خبرو لپاره باید مناسبه فضا او باور رامنځ ته شي، جگړه او بریدونه د سولې ضد حرکت گڼل کېدلی شي. اوس د سولې او خبرو وخت دی، نو جگړه باید که یو مخ نه درېږي، خو تر وروستي حده باید کمه شي.

دویم؛ د حکومت له خوا خپرېدونکې شمېرې دوه ډوله ستونزې لري. یو خو پکې مبالغه ښکاري او دویم پکې هڅه کېږي چې طالب د سولې ضد او جگړه‌خوښی ځواک معرفي شي. دا سمه ده چې طالبانو اوږده جگړه کړې ده، خو اوس یې سولې ته له تمایل هم سترگې نه شي پټېدلی. که موږ له ۲۰۱۴ ز کال راهیسې د ملي یووالي حکومت امنیتي پالیسي وگورو، تل هڅه کېده چې د امنیتي ځواکونو مرگ ژوبله پټه شي او د مرگ ژوبلې پر واقعي شمېرو خلک خبر نه شي. اوس که دا شمېرې سمې هم وي، خو همدا چې حکومت یې خپروي، دا خپله د پوښتنې وړ مسئله ده.

درېیم؛ دواړو اړخونو ته د سولې ضد کړی او د هغوی نور کورنۍ او بهرني ملاتړي او همفکران هڅه کوي چې د تاوتریخوالي په زیاتولو سره د سولې فضا خرابه کړي او جگړه ییز حالت واکمن کړي. له همدې امله له دواړو اړخونو باید واقعي هڅه دا وي چې دا کړی پیدا کړي، مخه یې ونیسي او د سوله ییزې فضا لپاره له خپله اړخه مثبت گامونه واخلي.

د سولې دښمنان په کمین کې دي او غواړي چې افغانان همداسې ووژل شي، خو موږ باید د سولې لپاره پیاوړي گامونه واخلو. اوس د تاوتریخوالي او جگړې وخت نه دی. اوس د نرمښت او انعطاف وخت دی. اوس د خبرو او تفاهم وخت دی او پر جگړه ټینگار د سولې په برخه کې شوي ټول پرمختگونه په اوبو لاهو کولی شي. طالبان باید په شدت سره تاوتریخوالی را کم کړي، جگړه ودروي او پرېږدي چې د سولې په برخه کې شوي پرمختگونه لا زیات شي. حکومت هم باید عملي او لفظي دواړه تاوتریخوالي راکم کړي. که ممکنه وي، سره له اوسه باید یو درېیم‌گړی ځواک وي چې د ښکېلو اړخونو اقدامات وڅاري او تر ممکنه بریده د تاوتریخوالي په کمولو کې هڅې وکړي. اوس جگړه یوازې افغانان وژني، زموږ ورونه باید نور ونه وژل شي، زموږ خویندې باید کونډې نه شي او نور باید زموږ وربرونه یتیمان نه شي. له همدې امله پر دې ولس رحم پکار دی او جگړه باید ختمه شي.

# د افغانستان اوبه او د گاونډیانو اندېښنې

لیکنه: عبدالرشید نایل

درېیمه برخه:

**د هریرود-مرغاب سیند حوزه:**

د هریرود-مرغاب حوزې دوه اساسي سیندونه هریرود او مرغاب سیندونه دي. دا سیند د بابا غرونو له لوېدیزو څنډو سرچینه اخلي او له افغانستانه له وتلو وروسته ایران او بیا ترکمنستان ته بهېږي. دا سیند ختیځ لوري ته بهېږي او له هرات وروسته لومړی شمال لوېدیځ او بیا شمال لوري ته تاوېږي. له اسلام‌قلعې څخه تر دهنه ذوالفقار پورې د افغانستان او ایران ترمنځ د پولې شمالي برخه جوړوي او وروسته بیا تر سورخس پورې د ایران او ترکمنستان ترمنځ د پولې سوېل ختیزه برخه جوړوي او په پای کې د ترکمنستان په قرقوم دښتنه کې پای ته رسېږي. په هرات کې سلما بند او دغه راز د ایران-ترکمنستان د دوستۍ بندونه پر همدغه سیند جوړ شوي دي.

مرغاب سیند که څه هم د تیربند ترکستان غرونو له لوېدیزو څنډو او د سپین غره له شمالي څنډو سرچینه اخلي او تر ډېره شمال لوري ته بهېږي؛ خو له هریرود سیند سره یو ځای دواړه سیندونه د ترکمنستان د قرقروم دښتې قاسس سیمه کې ماري او تېجېن د اوبو لگونې کانالونو ته تویېږي.

په هریرود-مرغاب حوزه کې هر کال شاوخوا ۳,۰٦ ملیارد متر مکعب اوبه بهېږي او د اوبو اخیستلو ساحه یې ۷۷٦۰٤ کیلومتر مربع ته رسېږي. دا سیند د افغانستان د اوبو د ټولو حوزو ۱۲ سلنه، د هېواد د ټول نفوس ۸ سلنه او د ټولې کرنیزې ځمکې ۱۱ سلنه برخه تر پوښښ لاندې لري.

**د شمال حوزه:**

دا د افغانستان د اوبو یوازېنۍ حوزه ده، چې اوبه یې له کوم بل هېواد سره شریکې نه دي او د هېواد د اوبو په ټولو حوزو کې هم تر ټولو کمه ونډه لري. د شمال حوزې سیندونه د هېواد د مرکزي غرنیو سیمو له لوړو غرونو سرچینه اخلي او په کلني ډول ۱,۸۸ ملیارد متر مکعب اوبه لري. د اوبو اخیستلو ټوله ساحه یې ۷۰۹۰۱ کیلومتر مربع ده او د هېواد له ټول نفوس څخه ۱۳ سلنه، د اوبو د ټولو حوزو ۱۱ سلنه او د ټولې کرنیزې ځمکې ۱۵ سلنه تر پوښښ لاندې لري.

په دې حوزه کې بلخ، جوزجان، سرپل، فاریاب او سمنگان ولایتونه راځي. مرستیالان یې بلخاب، خلم، سرپل او شیرین‌تگاب سیندونه دي.

**له گاونډیو هېوادونو سره د اوبو ستونزې**

د افغانستان د اوبو له پنځو حوزو څخه درې یې (کابل-اندوس، هلمند، هریرود-مرغاب) په ترتیب سره له درېو گاونډیو هېوادونو (پاکستان، ایران او ترکمنستان) سره شریکې حوزې دي او په څلورمه حوزه (آمو) کې د مرکزي اسیا له درېو جمهوریتونو (تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان) سره د هېواد شمال لوري ته گډه طبیعي پوله جوړوي. له همدې کبله د افغانستان ډېرې اوبه یا خو گاونډیو هېوادونو ته بهېږي او یا هم له گاونډیو هېوادونو سره شریکې/گډې اوبه بلل کېږي . په ټولیز ډول د افغانستان شاوخوا ۹۰ سلنه بهېدونکې اوبه په هغو حوزو کې بهېږي، چې د اوبو د نړیوالو حوزو په کتار کې راځي. له گاونډیو هېوادونو سره گډې اوبه، له دغو هېوادونو سره د گډو اوبو په اړه د شخړو لامل هم شوې دي او له نږدې ټولو گاونډیانو سره په دې تړاو ستونزې شته دي.

**له ایران سره د گډو اوبو ستونزې**

له نورو هېوادونو سره د شریکو اوبو په برخه کې تر ټولو ډېرې ستونزې، هم په تېر کې او هم اوسمهال، له ایران سره د افغانستان د تر ټولو اوږده او ستر سیند (هلمند) د اوبو په تړاو دي او له همدې کبله د اوبو یوازېنی تړون هم له دغه هېواد سره د هلمند د اوبو د وېش په اړه لاسلیک شوی دی. له بده مرغه د دغه تړون شتون هم دا ستونزې په بشپړ ډول له منځه نه دي وړې. له ایران سره د اوبو د وېش د ستونزې ژورتیا ته په کتلو سره، دا موضوع د نورو حوزو په پرتله یو څه ژورې کتنې او څېړنې ته اړتیا لري، ترڅو د دواړو هېوادونو ترمنځ د اوبو په تړاو د شخړو اساسي لاملونه روښانه او حل‌لارې ورته وړاندې شي.

د هلمند د سیند ترڅنگ د هریرود-مرغاب حوزه هم له ایران سره گډه حوزه ده، چې په اړه یې تراوسه کوم تړون هم نه دی لاسلیک شوی. هریرود سیند د هېواد په لوېدیځ کې ایران ته له داخلېدو مخکې له هغه هېواد سره د افغانستان پوله جوړوي او د افغانستان له خاورې له وتلو وروسته لومړی ایران او بیا ترکمنستان ته بهېږي؛ خو مرغاب سیند بیا نېغ په نېغه له افغانستانه د ترکمنستان قرقوم دښتې ته بهېږي او افغانستان له دغه سیند څخه ډېره لږه استفاده کوي؛ له همدې کبله د گډو اوبو په تړاو د بحثونو ډېره لږه برخه هم جوړوي.

د ۲۰۱٦ کال په جنوري کې ایران ته د افغانستان د اجرائیه رئیس ډاکتر عبدالله عبدالله د سفر پر مهال له ایراني چارواکو سره هوکړه وشوه، چې د هریرود سیند د اوبو د وضعیت او وړتیا په تړاو د څېړنو لپاره به گډه کارډله جوړوي تر څو د نړیوالو قوانینو له مخې له دغو اوبو عادلانه کار اخیستنې ته لاره هواره شي. همدا راز د هلمند سیند د اوبو په اړه ۱۹۷۳ کال تړون د هر اړخیز پلي کېدو او په دې تړاو د اړوندو مسؤولینو پر منظمو ناستو هوکړه وشوه، خو تراوسه په دې تړاو عملي اقدام نه دی شوی. د هریرود سیند د راتلونکي وضعیت په تړاو مشخصې وړاندوینې نشته؛ خو په هرات ولایت او د ایران په اړخ کې د اوبو تقاضا مخ په زیاتېدو ده، کوم څه چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اوبو پر اړیکو پام‌وړ اغېزې ښندي. ترڅنگ یې په وروستیو کلونو کې پر دغه سیند د هند له لوري جوړ شوي سلما بند د پروژې بشپړېدو هم د دواړو هېوادونو ترمنځ د گډو اوبو موضوع لا ډېره توده کړه.

**له ایران سره د اوبو د شخړې مخینه**

له ایران سره د هلمند د گډو اوبو په تړاو ستونزې په نولسمه پېړۍ کې د لویې لوبې مهال ته رسېږي او تر هغه وروسته څو ځله د دغو اوبو په تړاو هوکړې هم وشوې. لومړی ځل په ۱۸۷۱ کال کې د برېتانوي افسر جنرال فرېدریک گولډزمېډ د افغانستان او ایران ترمنځ د هلمند دلتا په اوږدو کې گډه پوله وټاکله؛ خو د اوبو د وېش په تړاو یې څه پرېکړه ونه کړه. په ۱۹۰۵ کال کې یو ځل بیا بریتانیا په دې قضیه کې مداخله وکړه او د برېتانیا استازي هنري مکمهن د دواړو هېوادونو ترمنځ هماغه د ۱۸۷۱ کال تازه کړه؛ خو دا ځل یې د اوبو وېش هم وکړ. نوموړي د هلمند سیند له درېو څخه دوې برخې اوبه یې افغانستان ته ورکړې او یوه برخه یې ایران ته ورکړه. تر ۱۹۳۰ کال پورې همدا تړون عملي شو؛ خو کله چې وچکالۍ زیاته شوه دا قضیه یو ځل بیا د ایران او افغانستان ترمنځ جنجالي شوه. په ۱۹۳۹ کال کې د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر او په کابل کې د ایران د سفیر ترمنځ بیا تړون لاسلیک شو، چې له مخې یې دواړو لورو ته مساوي اوبه ورکړل شوې. په دواړو اړخونو کې د بې‌باوریو او کانالونو او بندونو جوړولو له کبله د دغه تړون نه عملي کېدل د دې لامل شول، چې په ۱۹۷۰ کلونو کې بیا د اوبو قضیه د دوه‌اړخیزو اړیکو توده موضوع وگرځي، چې بالاخره د محمد ظاهر شاه د واکمنۍ په دوره کې، د افغانستان له لوري لومړي وزیر محمد موسی شفیق او د ایران له لوري لومړي وزیر امیر عباس هویدا د اوبو د نړیوالو قوانینو پر بنسټ، د ۱۹۷۳ د مارچ په ۱۳مه د هلمند د اوبو دوه‌اړخیز تړون لاسلیک کړ، چې د همدغه کال د مې په ۳۰مه د افغانستان په پارلمان کې تصویب هم شو او نور ټول قانوني مراحل یې بشپړ شول.

**د ۱۹۷۳ کال تړون او ایران ته د ورتلونکو اوبو کچه**

د ۱۹۷۳ کال تړون له یوې خوا د دواړو هېوادونو د لومړیو وزیرانو له لوري لاسلیک شوی او قانوني پړاوونه یې بشپړ شوي او له بلې خوا د دغه تړون د لسمې مادې له مخې، دواړو لورو د یوه دایمي تړون په توگه هم منلی او د هر ډول وضعیت لپاره وړاندوینې لري؛ له همدې کبله دا یو معتبر تړون بلل کېږي.

دا تړون یوه مقدمه او ۱۲ مادې لري. د تړون د دویمې مادې له مخې، افغانستان په اوسط ډول په یوه ثانیه کې ۲۲ متره مکعب اوبه ایران ته ورکوي؛ خو په تړون کې افغانستان د ښه گاونډیتوب په نیت ۲٦ متره مکعب اوبه دغه هېواد ته منلې دي، چې په کلني ډول ۸۲۰ ملیون متر مکعب اوبه کېږي او ان که افغانستان وغواړي ٤ متر مکعب اوبه بېرته گرځولی هم شي. د تړون د پینځمې مادې له مخې، افغانستان به ایران د هلمند سیند له اوبو څخه په بشپړ ډول نه محروموي؛ خو په ورته وخت کې تړون دا هم وایي چې ایران له ټاکل شوو اوبو د زیاتو اوبو په تړاو د هېڅ ډول ادعا حق نه لري او افغانستان چې څه ډول غواړي زیاتې اوبه هغسې کارولی شي.

د افغانستان او ایران ترمنځ شوي تړون د څلورمې مادې له مخې، په کومو کلونو کې چې د وچکالیو له کبله تر عادي کلونو د سیند اوبه کمې وي، د ایران سهم به هم کمېږي. افغان چارواکي وایي، چې په عادي کلونو کې د ایران ونډه یو پر اته ده؛ خو په وچو او غیر نورمالو کلونو کې یو پر دیارلس ته راټیټېږي. خو دا چې ایا ایران ته له دغه تړون سره سمې اوبه رسېږي او کنه؟ هغه پوښتنه ده چې د دقیق ځواب نشتون یې له ایران سره د گډو اوبو مسئله پېچلې کړې ده. د دغې پوښتنې د ځواب لپاره مو شته څېړنیز او رسنیز مواد او راپورونه څېړلي او د افغان چارواکو څرگندونو او مرکو ته مو مراجعه کړې ده. له دغې مطالعې مو لاندې دوې پایلې ترلاسه کړې دي:

**دوام لري...**

## د روغتیا نړیوال سازمان:

# په وروستیو څو ورځو کې د کرونا مثبتې پېښې په بې ساري ډول ډېرې شوې دي



د روغتیا نړیوال سازمان وایي چې په دې وروستیو کې د کرونا ویروس نوې پېښې په بې‌ساري ډول زیاتې شوې دي. د یاد وزارت د معلوماتو له مخې، ډېرې دغه پېښې په شمالي او جنوبي امریکا کې ثبت شوې دي.

دغه سازمان ویلي چې د جون د ۲۱مې تر سهار وختي پورې په ۲۴ ساعتونو کې د کرونا نوې ۱۸۳ زره پېښې ثبت شوې چې له نیمایي زیاتې یې د امریکا په وچه کې وې.

دا په داسې حال کې ده چې د تازه شمېرو له مخې، په ټوله نړۍ کې د کرونا ویروس د مثبتو پېښو شمېر له نهو میلیونو اوښتی، ۴۷۲ زره کسان یې مړه کړي او نږدې پنځه میلیونه کسان ترې بېرته رغېدلي دي. د دغو شمېرو له مخې، امریکا د دغه ویروس د زیاتو مثبتو پېښو او مړو له کبله د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. له امریکا وروسته په برازیل کې د کرونا ویروس په ډېرې چټکۍ سره د پراختیا په حال کې دی چې د مړینې کچه هم ورسره ډېره شوې ده. په امریکا کې د دغه ویروس د مثبتو پېښو شمېر دوه میلیونه او ۳۷۸ زره او ۱۰۹ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز په یاد هېواد کې د کرونا تر دې مهاله ۱۲۲ زره او ۵۲۸ امریکایان مړه کړي دي. له امریکا وروسته برازیل د یو میلیون او ۹۰ زره او ۳۴۹ مثبتو پېښو په درلودو سره دویم، روسیه د ۵۹۲ زره او ۲۸۰ مثبتو پېښو له اړخه درېیم، هند د ۴۴۰ زره او ۴۵۰ مثبتو پېښو په درلودو سره څلورم او برېټانیا د ۳۰۵ زره او ۲۸۹ مثبتو پېښو په درلودو سره پنځم، هغه هېوادونه دي چې د کرونا تر ټولو زیاتې پېښې پکې ثبت شوې دي.

دغه راز اسپانیا، پیرو، چیلي، ایټالیا او ایران په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د دغه ویروس له کبله ډېر ځپل شوي دي.

# له افغانستان سره د پیسو نړیوال صندوق پور ولې دومره رسنیز شو؟

لیکنه: کامران ملک

څو ورځې کېږي چې په ټولنیزو او خواله رسنیو کې د افغانستان دولت لخوا د پیسو له نړیوال صندوق یا IMF څخه ۲۲۰ میلیون ډالرو پور موضوع ګرمه نیول شوې ده او یاد پور د افغان ولس لخوا له قوي انتقاد او مخالفت سره مخ شوی. په حقیقت کې د پیسو نړیوال صندوق یوازې هغو هېوادونو ته پور ورکوي چې اقتصادي رکود یې تجربه کړی وي او د قرض اخیستو پر مهال له ستونزو سره مخامخ وي، لومړی پور واخلي او خپلې کورنۍ ستونزې پرې حل کړي. دا ډول هېوادونه تر ډېره اقتصادي هسکو او ژورو کمزوري کړي وي، خو د قرض په اخیستو یې د بیارغولو فرصت ډېر وي او د ستونزو د حل لپاره اوږدمهاله پور ته ضرورت ولري.

د افغانستان حکومت هم د پیسو له نړیوال صندوق څخه د کرونا ناروغۍ د مخنیوي په پار د ۲۲۰ میلیون ډالرو پور وغوښت چې دغه صندوق ومانه.

د یادونې وړ ده چې د ۲۰۱۰ او ۲۰۱۱ ز کلونو په منځ کې هم د پیسو نړیوال صندوق افغانستان ته د کابل بانک تر کړکېچ وروسته تر ۱۳۳ میلیونو ډالرو پور ورکړی و، چې د هېواد اقتصاد بې ثباته نشي او د افغانستان د اقتصادي ودې اساس وساتل شي. د دې تر څنګ د افغانستان دولت په تیرو څو لسیزو کې د نړیوالې انکشافي موسسې، روسیې فدراسیون، د اسیا پراختیایي بانک، اسلامي بانک، د سعودي انکشافي بانک، د اوپک صندوق، د ایټالیا او د بلغاریا د پیسو نړیوال صندوق څخه د ۲۰۰۱ ز کال دمخه او وروسته تر ۲۶۸.۸ میلیارده افغانۍ (نږدې څلور میلیارده ډالره) پورونه اخیستي چې له دې جملې څخه ۳.۶ میلیارده افغانۍ په ۱۳۹۸ لمریز کال کې افغانستان د پور په توګه اخیستې، له دې مجموعي پور څخه افغانستان تر اوسه یوازې ۱.۵ میلیارده افغانۍ چې ۱.۰۱ میلیارده یې اصل پور او ۴۲۰ میلیونه افغانۍ یې د ګټې/سود مقدار دی، بیرته یادو هېوادونو او نړیوالو صندوقونو ته تادیه کړې. د یادونې وړ ده چې د نړیوال قانون له مخې د افغانستان اوسني او راتلونکي دولتونه دا مسوولیت لري چې یاد پورونه پور ورکوونکو هېوادونو ته بیرته تادیه کړي.

باید روښانه وي چې آی ایم ایف په مشروط ډول پورونه ورکوي، له پور ورکولو مخکې هر هېواد ته خپل شرطونه وړاندې کوي، کله چې پور اخیستونکی هېواد په لیکلې بڼه د دوی شرایط ومني، یاد صندوق پور ورته منظوروي. د دغه صندوق په خبره، افغانستان ته د بېړنیو اړتیاوو او له اړمنو کورنیو او ټولنیزو فعالیتونو سره د همکارۍ په پار دا مرسته کوي. یاده مرسته به پوروړي هېواد له مشروع ګټې سره بېرته د پیسو نړیوال صندوق ته ورکوي.

که څه هم د پیسو نړیوال صندوق تر ۱۸۹ ډېر غړي هېوادونه لري، خو د امریکا او د امریکا متحده ایالتونو خبره پکې تر ډېره ځای لري. همدا لامل دی چې د رایو اکثریت هم پکې لري، په دې خاطر یې ونډه هم ډېره ده او د امریکا هدفونو ته ډېر پام پکې کېږي.

پر دې سربېره، د دې پور ونډه د پور اخیستونکي هېواد لپاره د سلاکار په توګه کار کوي چې د یاد هېواد په نوې اقتصادي او سیاسي پالیسۍ جوړولو کې خورا مهم رول لوبوي. دا په دې مانا ده چې پور اخیستونکی هېواد به د پیسو نړیوال صندوق په مشوره خپله اقتصادي او سیاسي پالیسي جوړوي، څو د دوی قرض له (اضافي ګټې) سره بېرته تادیه کړي.

ولې دا پور ډېر رسنیز شو؟

په دې هکله ځینې پوهان وایي چې اوسنی پور د نورو پورونو په پرتله بې برنامې و، ځکه رسنیز شو او په پراخه کچه له مخالفت سره مخ شو. د ۲۰۱۹ ز کال له ټاکنو وروسته چې د ډاکټر غني او عبدالله تر منځ کومې سیاسي ناندرۍ رامنځ ته شوې او دواړو د امریکا د استازو خبرې ونه منلې، نو د امریکا لخوا یو میلیارد ډالر مرستې بندې شوې او له دې وروسته د پیسو نړیوال صندوق اعلان وکړ چې افغانستان به راتلونکی کال له ۸۵۰ میلیون ډالرو زیاتې خسارې سره مخ شي. له همدې امله د افغانستان حکومت د ۸۵٦ میلیونو ډالرو غوښتنه د پیسو له نړیوال صندوق څخه وکړه چې هغوی یوازې ۲۲۰ میلیونه ډالر له کرونا سره د مبارزې او په دې برخه کې د عاجلو اړتیاوو پوره کولو او هغو کورنیو ته د ټولنیزو مرستو رسولو لپاره چې له ستونزو سره مخ کېږي منظور کړل، څو هم د کرونا او هم د خسارې تشه پرې ډکه شي.

ځینې بیا داسې انګیري چې د کرونا په نوم چې تېرې کومې مرستې د نړیوال بانک او نورو هېوادونو لخوا له افغان دولت سره وشوې، د افغان دولت لخوا په هغه کې هېڅ ډول شفافیت ونه لیدل شو او د دې پیسو زیاته کچه په غیر ضروري برخو کې مصرف شوه، حتی د افغان ولس زیاتې سلنې د کرونا ناروغان په شخصي روغتونونو کې ودرملل او ولس ته په سمه توګه طبي او مالي مرسته ونه رسېده. نو د شفافیت نشتون او فساد دواړه د دې لامل شول چې ولس په پراخه کچه د دې پورونو مخالفت وکړي.

بل لامل یې دا دی چې دولت د دې پور د مصرف لپاره مشخص پلان نه لري چې ولس ته پرې قناعت ورکړي، ولس اټکل کوي چې دا پور به هم زموږ په نامه واخیستل شي او بیا به زموږ راتلونکي نسلونه داسې یو پور بیرته تادیه کوي چې یوه افغانۍ یې هم هغوی ته نه ده رسېدلې. غوره بېلګه یې د نړیوال بانک لخوا د ۱۰۴ میلیون ډالرو مرسته ده چې د افغانستان له دولت سره وشوه. هغه هم بې پلانه مصرف شوه او دولت هیڅ مشخص پلان نه درلود چې څرنګه داسې مرستې تر اړو کورنیو او د کرونا پر ناروغۍ اخته ناروغانو ته ورورسوي.

د پیسو نړیوال صندوق پور څومره ګټور دی؟

په حقیقت کې د پورونو ظاهري بڼه ډېری خلکو ته ښه ښکاري او داسې انګیري چې هېواد مو د دې پورونو له امله په پښو ودرېږي؛ خو هیڅکله هم پورونه بې بیې نه وي. خو د پیسو نړیوال صندوق پور په داسې مهال اخیستل کېږي چې د کرونا له امله په افغانستان کې ډېر کاروبارونه په ټپه ولاړ یا کمزوري شوي دي.

د پیسو نړیوال صندوق وايي، ۲۲۰ میلیونه ډالر پور به د افغان دولت بېړنیو اړتیاوو ته لګول کېږي او د اوسني کړکېچ له کبله د تشې ډکولو لپاره به کارول کېږي. دا پور په لنډمهاله توګه کولای شي چې د هېواد د انفلاسیون کچې په کمېدلو، د افغانۍ د ارزښت په لوړېدلو او بهرنیو پانګوالو ته د پانګوالۍ فرصتونو په چمتو کېدلو کې زیاته مرسته وکړي.

د پیسو نړیوال صندوق د پور نیمګړتیاوې

په عمومي شکل د نړیوالو پورونو تر شا حتماً نور مسایل وي چې له هغې ولسونه بې خبره پاتې کېږي. د پیسو نړیوال صندوق پورونه که له یوې خوا د یوه هېواد د تادیاتو د کسر ډکولو لپاره اغېزناک تمامېدای شي، بل پلو په اوږدمهال کې د همدې هېواد د اقتصادي او سیاسي لانجو زیاتېدو لامل هم ګرځېدای شي؛ ځکه دغه پورونه دې ته لاره هواروي چې دولتي اداري شخصي شي او په تدریجي شکل د ملکي او بهرنیو پانګوالو لاسونو له هرڅه لنډ شي. بله ستونزه د یاد هېواد په مالي fiscal پالیسۍ کې د بدلونو ده، د پیسو نړیوال صندوق د دې پور له ورکولو وروسته د دې صلاحیت لري چې د یو هېواد په مالي پالیسۍ یا په بله اصطلاح د پیسو پر عرضه کنټرول ولري. پر دې سربېره، یاد صندوق حق لري چې د یاد هېواد د مالیې راټولولو په تګلاره او سلنه کې بدلونونه راولي. پر دې سربېره، داسې هم ویل کېږي چې د پیسو نړیوال صندوق د نړۍ اتو شتمنو او صنعتي هېوادونو (جرمني، انګلستان، روسیه، جاپان، امریکا، ایټالیا، فرانسه، کاناډا) د ګټو لپاره کار کوي. د پوهانو په اند، دا او دې ته ورته کړنلارې کولای شي چې د پوروړو هېوادونو په چارو کې د لاسوهنې مانا ولري.

پوهان وایي چې د پیسو نړیوال صندوق پورونه غریب یا پر مخ تلونکي هېوادونه دې ته اړ باسي چې نور هم د پیسو په نړیوال صندوق پورې وتړل شي او دغه پورونه پور اخیستونکي هېوادونه ځان بسیا کېدلو ته نه پرېږدي او د دې تر څنګ پور اخیستونکي هېوادونه دې ته اړ باسي چې په خپلو اقتصادي او نورو پالیسیانو کې بدلونونه راولي، پرته له دې چې د مختلفو هېوادونو اقتصادي حالت، د سوداګرۍ چاپیریال او کلتوري توپیرونه په نظر کې ونیسي او د پالیسیو سمونونه پرې پلي کړي.

د پیسو له نړیوال بانک څخه د پور اخیستونکو هېوادونو تجربې

پاکستان یو له هغو هېوادونو دی چې د پیسو نړیوال صندوق د پور له کبله له اقتصادي کړکېچ سره مخ دی او دا مهال یې له دغه صندوق کابو ۱٫۴ میلیارده ډالر اخیستي او ٦ میلیارده نور پور چې پاکستان د پیسو له نړیوال صندوق څخه غوښتي وو هم تیر کال د یاد صندوق لخوا منظور شو. د یاد هېواد پولي واحد خپل ارزښت له لاسه ورکړی او د توکیو د بیو د لوړوالي لامل ګرځېدلی، خو د پاکستان برعکس، هغه هېوادونه چې له دې صندوق یې پور نه دی اخیستی یا یې که اخیستی ژر یې بېرته ورکړی، اقتصادي وده یې ډېره شوې ده او ډېر پام یې پر کورنۍ پانګونې ورټول دی چې ترکیه او مالیزیا د دې غوره بېلګې کیدای شي.

که د بحث پای ته راشو، افغانستان ډېرې طبیعي زېرمې او ښې کرنیزې ځمکې لري. که له خپلو کورنیو سرچینو په سمه توګه ګټه واخیستل شي او کورني پانګوال په بېلابېلو برخو کې پانګونې ته زړونه ښه کړي، دا هېواد ژر پر ځان د بسیا کېدو جوګه کېدای او له نړیوالې ټولنې یا کوم هېواد ته د مرستې له لاس له غځولو راګرځول کېدای شي.

افغانستان ته د پیسو نړیوال صندوق په ګډون، د نړیوالو قرض ورکوونکو ادارو پور هغه مهال ګټور او اغېزناک تمامېدای شي، چې په دې هېواد کې سیاسي ټیکاو، عدالت، شفافیت او امنیت وي.

په افغانستان کې د حکومت او پارلمان دواړو مسوولیت اوس دا دی چې د پیسو نړیوال صندوق د پور ټول منفي او مثبت اړخونه سم وشاربي، پر ټولو شرطونو یې معقولانه غور وکړي او بیا یې وسنجوي چې ایا دا پور د هېواد په ګټه دی او که په زیان. خو تر دې زیات اړین لا دا دی چې د دې پور په مصرف باندې پوره څارنه وشي او اجازه ورنه کړل شي چې د فساد ښکار شي.

# ارګ له خپلې پرېکړې په شا شو؛

## ولسمشرغني د رسنیو د تعدیل طرحه بېرته له پارلمان راوغوښته



ولسمشر غني د خپلې تازه پرېکړې له مخې د ټولیزو رسنیو د قانون طرحه بېرته له پارلمان راغوښتې ده. د راپورونو له مخې، د بهرنیانو او رسنیو تر فشار وروسته ولسمشر پرېکړه کړې چې دغه طرحه بېرته راوغواړي او د ولسمشر دویم مرستیال به د رسنیو له استازو او مسوولینو سره پر دغه مسئله لا ډېر کار کوي. رسنیو د ولسمشر دغه کار چې له مخې به یې د ټولیزو رسنیو قانون تعدیل کېدلو، د رسنیو، بشري حقونو او نورو بنسټونو له غبرګون سره مخ شو. تازه پرېکړه هم د رسنیو او بشري حقونو د فعالینو له مشرانو سره مخ شوې ده.

له څو ورځو راهیسې په رسنیو کې په دې تړاو راپورونه خپرېدل چې ارګ غواړي د ټولیزو رسنیو قانون تعدیل کړي او ځینې محدودیتونه رامنځ ته کړي. د دغې طرحې له مخې، رسنیو باید د خپلو خبرونو سرچینې د با صلاحیته محکمې له امر پرته پولیسو، څارنوالانو او د امنیت کسانو ته افشا کړي. همدا راز به د حکومت له لوري د دوی بهرنۍ خپرونې څارل کېږي او سانسور کېږي. همدا راز بله برخه یې دا وه چې د رسنیو د لغوي شرایط به اسانه کېږي. دې مسئلې د رسنیو د مسوولینو اندېښنې پارولې وې او دوی حکومت پر دې تورن کړ چې هڅه کوي د رسنیو پر نشراتو محدودیتونه وضع کړي.

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون هغه مهال د حکومت پر دې کار غبرګون وښود. دغه کمېسیون وویل چې د بیان ازادي په وروستیو کلونو کې تر ټولوستره لاس ته راوړنه ده چې باید له محدودیت او بندیز سره مخ نه شي. دغه کمېسیون پر حکومت غږ کړی چې د بیان ازادي دې مهمه وبولي، محدودیتونه دې لرې کړي او د دغه مهم رکن په لا پرمختګ کې دې هڅه وکړي.

د افغانستان پر شفافیت د څار بنسټ هم ویلي وو، داسې ښکاري چې افغان حکومت هڅه کوي پر رسنیو محدودیتونه وضع کړي او دغه مهم اصل له خنډونو سره مخ کړل. د دغه بنسټ مشر همدا راز له حکومت غوښتي وو چې د رسنیو د محدودولو پر ځای دې د رسنیو د ودې لپاره کار وکړل شي.

اوس ولسمشر د بهرنیانو او رسنیو تر فشار وروسته دغه طرحه بېرته له پارلمان را بللې ده. د ارګ له مطبوعاتي دفتره په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې تېره ورځ د ولسمشر غني په مشرۍ د کابینې غونډه وشوه او په هغه کې د نورو ګڼو مسایلو تر څنګ د ټولیزو رسنیو د قانون د تعدیل پر طرحه هم خبرې شوې دي. د ولسمشر دویم مرستیال د دغه قانون په اړه معلومات ورکړي دي او په وینا یې، دوی دغه طرحه پارلمان ته استولې ده. ولسمشر غني په دې غونډه کې لارښوونه کړې چې د بیان ازادۍ ته د درناوي لپاره دغه طرحه بېرته راغواړي. ولسمشر په پارلماني چارو کې ددولت وزارت ته لارښوونه کړې چې طرحه دې بېرته له پارلمان راوغواړي.

ولسمشر ویلي چې دا مسئله د رسنیو د مسوولینو د اندېښنې سبب شوې وه چې باید بېرته را وغوښتل شي. د ارګ په مطبوعاتي اعلامیه کې راغلي دي: ((کابینې پرېکړه وکړه چې په پارلماني چارو کې د دولت وزارت دې یاده وړاندیز شوې طرحه بېرته له پارلمان څخه وګرځوي)).

د دې تر څنګ کابینې پرېکړه کړې چې د رسنیو ټولې اندېښنې دې راټولې کړل شي او د ولسمشر دویم مرستیال به د دغه قانون په اړه د رسنیو له مسوولینو سره خبرې کوي. د خبرپاڼې له مخې، پر دغه طرحه به لا ډېرې خبرې کېږي او لا به دقیق کېږي.


د رسنیو مسوولینو هم ددغه پرېکړې هرکلی کړی دی او هیله یې څرګنده کړې چې حکومت دې د بیان ازادۍ د ودې لپاره لا ډېر ګامونه اوچت کړي او د خبریالانو او رسنیو په خوندیتوب کې دې مرسته وکړي.

## د کتــاب خبــرې

# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

◎ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◎ ژباړن: علي‌الله متوکل

### دویمه برخه
### یو کاروبار او اته شتمني جوړوونکې دارایۍ
### لسم څپرکی




د زده کړو تر خلاصولو وروسته مو یوازې یو کال وخت درلود چې ویتنام ته د تګ لپاره چمتووالی ونیسو. پرلپسې پروازونه مو کول چې رواني، فکري، فزیکي او احساساتي حالتونه مو وکتل شي.
د اتو میاشتو په تېرولو مې یو بدلون وکړ. په یوه الوتنه کې ځان ته متوجه شوم چې جنګ تللو ته چمتو یم. تر دې وروسته مې له رواني، فزیکي او احساساتي پلوه په پوره توګه د الوتکې پیلوټې کولی شوای. ځینې خلک دې ته میخانیکي الوتنه وایي. په هغه یوه روزنه کې زه له فکري اړخه بدل شوم. زما کار دومره سخت او وېروونکی و چې نابېره مې ټوله وېره او شک له زړه ووتل او انساني روح مې ټول واک په لاس کې واخیست. پرواز کول زما د ځان یو برخه شوه. ما په الوتکه کې ارام او د کور په څېر احساس لاره. الوتکه زما یوه برخه ګرځېدلې وه او زه د ویتنام تګ ته چمتو وم.
ته وا ما نو وېره نه درلوده. زه له جنګ، وژل کېدو او تر وژل کېدو بیا له معلولیت څخه ډېر وېرېدم. توپیر دا و چې جنګ ته چمتو وم. تر وېرې مې پر ځان باور زیات و.
زما تجار او پانګوال کېدل کټ مټ داسې وو لکه په پیلوټ کېدو چې جنګ ته چمتو شوم. مخکې تر دې چې د تشبث روحیه را پکې پیدا شي، دوه ځله مې په تجارت کې سخته ماتې وخوړه. دغې روحیې زه د پیسو ګټلو په نقشه کې د B او I یانې د تجارت او پانګونې په کونجونو کې ځای کړم. یو څه سخته ده؛ خو پر وا یې نه لرم. زه د E او S تر ارام او هوسا ژوند یانې تر تنخوا لرونکې دندې او ازاد کوچنې کاروبار دا ډېره ښه ګڼم چې د B او I په کونجونو کې پاتې شم.
په B کونج کې د ارام او هوسا ژوند باور پیدا کولو پوره پنځلس کاله وخت وغوښت. تاسو تر ما بختور یاست. زما په څېر ناکامیو او ستونزو ګاللو ته اړتیا نه لرئ. تاسو کولای شئ د شبکه یي بازارموندنې په مرسته زما په څېر ژوند بدلوونکې زده کړې وکړئ.

**تجارتي مهارتونو مې ژوند څنګه بدل کړ؟**

اوس مې چې د نظامي زده کړو، په جنګ کې د الوتکو د چلولو او د ویتنام د ځنګلونو په اړه خبرې درسره وکړې، غواړم د شخصیت جوړونې یو بله کیسه هم درسره شریکه کړم. دا د جنګ په اړه نه ده، بلکې د لېوالتیا او مینې په اړه ده.
که ما د واقعي نړۍ تجارتي زده کړې نه وای کړې، نو اوس به مې د خپلو خوبونو له شهزادګۍ سره واده نه و کړی. کله چې مې په لومړي ځل له «کېم» سره وپېژندل، فکر مې وکړ چې د نړۍ تر ټولو ښایسته ښځه ده. زه د خبرو کولو نه وم او نه دې ته د خبرو کولو لپاره ور نږدې کېدی شوای. خو زما تجارتي روزنې دا را ښودلې وه چې د ناکامۍ له وېرې او ردېدو سره څنګه مقابله وکړم او دغه روزنه ګټوره تمامه شوه. د دې پرځای چې د اطاق په کونج کې پټ شم او له لرې ورته وګورم ـ چې دا کار مې کلونه وړاندې کاوه ـ په زړورتیا ورغلم او سلام مې ورته واچاوه.
کېم مخ را واړاوه او نرمه موسکا یې وکړه. هغه وخت پوه شوم چې پرې مین یم او دا مې د خوبونو ښځه ده. کله چې مې د خبرو کولو لپاره د بهر وتلو غوښتنه ترې وکړه، نو «نه» یې راته وویل.
که زه هغه مخکینی رابرټ کیوساکي وای، نو ماتې به مې منلې وای او روان شوی به وم. خو په تجارتي زده کړو کې ډېر سخت شوی وم او پر ذهن مې واک لاره. بیا ورغلم او غوښتنه مې ترې وکړه. دې بیا منفي ځواب راکړ. دا ځل مې پر ځان باور یو څه کم شوی و او غرور مې د بیا غوښتنې مخالفت کاوه؛ خو زه بیا ورغلم او غوښتنه مې ترې وکړه. د دې ځواب بیا منفي و او زه یې رد کړم.
شپږ میاشتې تېرې شوې. هر ځل چې به یې منفي ځواب راکاوه، نو د څه مودې لپاره به پټېدم چې زخمونه مې ورغېږي. زه په ځان کې دننه زخمي کېدم. که مې پر دننه شکونو او وېرو بریا نه وای زده، نو ما به کله هم شپږ میاشتې پرلپسې غوښتنه نه ترې کولای. بلاخره یې یوه ورځ د «هو» ځواب راکړ. دا دی تر اوسه ګډ ژوند کوو.
دا کیسه مې په دې خاطر درته ونه وکړه چې تاسو د رابرټ او کېم له ګرمې او نرمې کیسې څخه خبر کړم، بلکې په دې کیسه کې مهم ټکی دی. دا په پیسو او تجارت پورې اړه نه لري. په دې کیسه کې ستاسو ژوند دی چې پیسې څنګه ترلاسه کوئ، خپل کار ته وده څنګه ورکوئ او څنګه خپل برخلیک او میراث ټاکئ.
**دوام لري...**

# نصرت فتح علي خان

شفیق امیرزی



نصرت فتح علي خان د قوالي سبک موسیقۍ شهنشا او په سیمه کې مشهور سندرغاړی دی. هغه په ماشومتوب کې د تصوفي حلقو د موسیقۍ پروګرامونو کې له خپل پلار سره برخه اخیسته او همدلته یې له موسیقي سره سترګې او حواس بلد شول. پلار به یې د صوفیانو او مجذوبانو په حلقو کې حمدونه، نعتونه او د الهي مینې سرودونه زمزمه کول.
دوی د موسیقۍ یوه ډله لرله، د فتح علي کورنۍ له نږدې شپږ سوه کاله راهیسې د هند په لویه وچه کې د قوالي سبک موسیقۍ سرلارې او پالونکې وه. د نصرت فتح علي پلار نه غوښتل چې زوی یې هم د ده په څېر قوال شي او قوالي موسیقي وغږوي. ده به ویل، خلک هنرمندانو او د ده په څېر هنرپالو ته درناوی نه لري، نو ښه ده چې زوی یې یو بل کار وکړي او خلک ورته درناوی وکړي. ده هیله لرله چې زوی یې ډاکټر یا انجنیر شي چې پیسې هم وګټي او شهرت هم. خو قسمت له نصرت فتح علي سره بل څه وکړل، دی یې د غزل او قوالي موسیقي شهنشا کړ چې د نړۍ ګوټ ګوټ ته یې غږ ورسېد او د موسیقۍ مینه وال یې په خپل سور تال وزنګول. هغه نړیوال سفرونه وکړل، نړیوالې جایزې یې وګټلې، د خپلې کورنۍ د موسیقۍ دودیز ځای ناستی شو، په امریکا کې یې د قوالي موسیقي درس ورکړ او ټولې نړۍ ته یې د اسلامي تصوف او مذهبي شعر نمونې واورولې.
نصرت فتح علي خان د ۱۹۴۸ ز کال په اکتوبر کې زېږېدلی دی. هغه د تصوفي قوالي موسیقي ستر استاد او د شرقي موسیقۍ علمبردار دی. د اسلامي تصوف ځانګړې موسیقۍ ته یې رنګ او خوند ورکړی دی او بې حده مینه وال لري. ان هغه کسان چې په فارسي یا اردو ژبه پوهېږي هم نه، خو د نصرت فتح علي سبک یې خوښ دی او له سندرو یې خوند اخلي. هغه فوق العاده استعداد او جادویي غږ درلود او کولی یې شوای چې ساعتونه ساعتونه په ژوندۍ بڼه قوالي سندرې ووایي. قوالي سندرې په موسیقۍ کې خورا سخت سبک دی چې پوره ورتیا، رسا غږ، عالي ذوق او سنګینه طبعه غواړي. نوموړی د پاکستان تر ازادۍ او له هنده یې تر بېلتون یو کال وروسته په فیصل اباد کې زېږېدلی دی.
خو هغه په سیاسي اړودوړ کې هېڅ رول نه درلود، یوازینۍ مینه یې اسلامي تصوف او موسیقي وه. ده په لس کلنۍ کې په خپل کور کې د موسیقي زده کړه پیل کړه. د طبلې له غږولو یې پیل کړه او ډېر ژر یې په موسیقي کې ځان ورساوه. په پنځلس کلنۍ کې یې له خپل پلار سره د ژوند لومړنی کانسرت ورکړ. موسیقي ته یې ادامه ورکړه، په ۱۹۷۱ز کال کې یې دروند مسوولیت اوږو ته ولوېد او دا چې د خپل پلار تر مړینې وروسته د کورنۍ مشر شو.
د دوی کورنۍ په اصل کې د اوسني هندوستان په جلندر کې اوسېده. د دوی کورنۍ له اسلامي تصوف سره پخوانۍ او ژورې اړیکې لرلې. له کلونو راهیسې د تصوفي حلقو موسیقي دوی غږوله او دا چې په هند کې چشتیه طریقه ډېره عامه شوې وه او موسیقي او قوالي به ډېره غږېده، نو دوی هم له نسبي شهرت برخمن وو. نیکونو یې هم موسیقي ته د یوه مسلک په سترګه کتل او پالله یې. نصرت د فتح علي خان پنځم خو لومړی نارینه اولاد و. پلار یې تر ده وړاندې څلور لوڼې لرلې او دی یې لومړنی زوی و. پلار یې موسیقي پوه، د هند د لویې وچې ستر استاد او د هنر په برخه کې مشهور سړی دی. د ده تکړه شاګردان معمولاً فتح علي تخلص کوي او د ده کورنۍ خپلو روزلو کسانو ته دا لقب ورکوي.
مخکې مو هم وویل چې د نصرت پلار نه غوښتل دی موسیقي او قوالي ته مخه کړي، هغه به ویل چې اولاد یې باید یو څه محترمانه دنده غوره کړي. د ده په باور، خلک په هند او پاکستان کې موسیقي ته درناوی نه لري، نو هغه خلک هم سپک بولي چې له موسیقي سره راشه درشه لري. غوښتل یې زوی یې انجنیر یا ډاکټر شي، ځکه احساسوله یې چې په دې توګه به یې خلک ډېر احترام کوي او دی به هم یو محترم شخص وي. خو دا مسئله تر ډېره اوږده نه شوه، نصرت چې موسیقي زده کړه، دومره وړتیا یې وښوده چې پلار یې له خپل تصمیم په شا شو او دی یې خپل ځای ناستی وباله.
نصرت فتح علي د موسیقۍ تر څنګ د انساني ژوند، شعر، هنر، تصوف او ژبو زده کړه پیل کړه. ده غوښتل د سیمې ژبې زده کړي، ښکلي شعرونه یې انتخاب کړي او په سندرو کې ترې ګټه واخلي. له همدې امله به یې په فارسي او اردو دواړو شعرونه ویلی شوای. په فارسي کې یې د مولانا، خسرو او جامي ډېر شعرونه سندرې کړي دي، خو په اردو کې یې د خورا ډېرو صوفي شاعرانو شعرونه سندرې کړي. پلار یې چې مړ شو، نو ترونو یې مبارک علي خان او سلامت علي خان د ده پالنه کوله. کله چې په ۱۹۷۱ز کال کې مبارک علي خان هم مړ شو، نو د دوی کورنۍ پرېکړه وکړه چې دی به د کورنۍ د موسیقۍ مشر یا رهبر ټاکي. ده هم د شاګردانو روزلو او قوالي غږولو ته مخه کړه. د نصرت فتح علي لومړی نوم پرویز و. د پلار تر مړینې وروسته یې له غلام غوث سمداني سره ولیدل، هغه یې نوم له پرویز پر نصرت واړاوه او دعا یې ورته وکړه چې دی به د قوالي موسیقي ستر استاد شي. ده ته یې زېری ورکړ چې د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې به یې خلک له غږ او نامه سره اشنا وي. د نصرت فتح علي لومړنۍ سندره چې دی یې د هند او پاکستان په ډېرو برخو کې مشهور کړ، حق علي علي قوالي سندره وه. له همدې ځایه د نصرت د شهرت اوج پیلېږي، تر دې چې پر نړیوالو سټېجونو د موسیقي غږولو لپاره بلل کېږي.
نصرت فتح علي خان په لومړي ځل په ۱۹۸۵ز کال کې په لندن کې پر نړیوال سټېج راڅرګند شو. وروسته یې دوه ځله په ۱۹۸۵ز کال کې او په ۱۹۸۷ز کال کې په پاریس کې د قوالي سندرو او موسیقۍ کانسرټونه ورکړل. په ۱۹۸۷ز کال کې د جاپان د اسیاسي موسیقۍ فیسټوال جوړ شو او نصرت فتح علي خان هم وربلل شوی و چې هلته د خلکو له خورا تاوده هرکلي سره مخ شو. په ۱۹۸۹ز کال کې یې په نیویارک کې د بروکلین موسیقي له بنسټ لیدنه وکړه. هغه په دې موده کې نه یوازې پخپله سندرې ویلې، بلکې د اسیا په تېره د هند او جنوبي اسیا هېوادونو له ډېرو استادانو سره یې اړیکې لرلې او د موسیقي په برخه کې یې همکاري ورسره کوله. اسلم لاهور، لتا منګیشکر، اشا بوسلې او نور هغه مشهور کسان دي چې له نصرت فتح علي سره یې خورا نږدې اړیکې وې.
د ۱۹۹۲ او ۱۹۹۳ تحصیلي کال په جریان کې نصرت فتح علي په امریکا کې و او سیاټل پوهنتون کې یې د موسیقۍ له استادانو او شاګردانو سره ګډ پروګرامونه مخ ته وړل او دوی ته یې د شرقي موسیقي او تصوفي موسیقۍ په اړه معلومات ورکول. په ۱۹۸۸ز کال کې یې د موسیقۍ له مشهور ستوري پېټر ګابرېل سره قرارداد لاسلیک کړ چې له مخې به یې نصرت فتح علي د موسیقۍ پنځه البومونه دوی ته جوړوي. له دې ډلې مست مست، د شپې سندرې او لوړ ستوري هغه البومونه وو چې نصرت فتح علي جوړ کړل او نړیوال شهرت یې پیدا کړ. د دې تر څنګ، نصرت فتح علي په همدې وخت کې د غربي موسیقۍ له مشهورو استادانو سره بلد شو او له دوی سره یې ګډ کارونه وکړل. هغه دودیزه قوالي موسیقي له مډرنې موسیقۍ سره ګډه کړه چې د مخاطبینو له هرکلي سره مخ شوه او ډېر مینه وال یې پیدا کړل. ډېر قراردادونه یې لاسلیک کړل، ډېرو فلمونو ته یې سندرې جوړې کړې او ډېرو سندرو ته یې د موزیک په جوړولو کې همکاري کوله.
خان د نړۍ په کچه د قوالي سندرو مشهوره څېره او جادویي غږ دی. هغه د خپل ژوند په اوږدو کې ډېرې جایزې ګټلې دي. په ۱۹۵۵ز کال کې هغه د یونسکو د موسیقۍ مشهوره جایزه وګټله. په ۱۹۹٦ز کال کې یې له دې امله د سینما د موترال جایزه وګټله چې د فلمونو په موسیقي جوړولو کې یې مهم رول تر سره کړی و. په همدې کال کې یې د هنر او فرهنګ په برخه کې د جاپان فوکاووکا جایزه هم وګټله. په جاپان کې اوس هم نصرت فتح علي ته د بودا غږ وایي او دا لقب همدلته په جاپان کې د فوکاووکا جایزې د ورکړې پر مهال ورکړل شوی دی. په ۱۹۹۷ز کال کې د ګرمي جایزې ته نوماند شو. دا جایزه هغو کسانو ته ورکول کېږي چې دودي او اصیله موسیقي پالي. په ۲۰۰۱ ز کال کې یې د ګینس د ریکارډونو په کتاب کې د تر ټولو ډېرو قوالي سندرو د لرونکي په نامه ثبت کړ. هغه په خپل لنډ ژوند کې د قوالي موسیقي ۱۲۵ البومونه ضبط کړي. په ۲۰۰۵ ز کال کې د برېټانیا له لوري په یوه جوړ شوي فیسټوال کې د اسیایي موسیقۍ د پاللو جایزه هم د ده په نوم شوه. د ټایم مجلې په ۲۰۰٦ز کال کې یوه ګڼه خپره کړه او په هغه کې یې په شپېتو کلونو کې د اسیا اتلان یاد کړي وو چې د نصرت فتح علي نوم هم پکې یاد شوی دی. مجلې دی تر هغه وخته په شپېتو کلونو کې د ۱۲ مفکرو هنرمندانو په کتار کې راوستی دی.
په ۲۰۱۰ ز کال کې د نړۍ په ۵۰ غوره غږونو کې راغلی و. همدا راز سي ان ان په ۲۰۱۰ ز کال کې هغه د تېرو ۵۰ کلونو په ۲۰ غوره موسیقي غږوونکو کې راوستی و. همدا راز یو جي او په ۲۰۰۸ ز کال کې د نړۍ د ټول وخت تر ټولو سترو سندرغاړو لېست خپور کړ چې نصرت فتح علي خان پکې څوارلسم ځای لري. ده نږدې پنځویشت کاله په موسیقۍ کې کار وکړ. نصرت فتح علي خان عالي سندرغاړی و او په ژوند کې یې ستره ستونزه د چاغښت و. هغه له دې درکه ځورېده او په کارونو کې یې ستونزې ورته جوړې کړې وې. یو وخت ناروغ شو او د دې اړتیا شوه چې د بډوډو عملیات وکړي، نو دغه عملیات باید په لندن کې شوي وای. ځینې خو وایي چې د ده وزن ان ۱۵۰ کیلو ته رسېدلی و، ان هغه مهال چې په امریکا کې و څو ځله سخت ناروغ شوی و. دی په لندن کې کروموېل روغتون ته ولېږدول شو او په همدې روغتون کې بستري و چې ناڅاپه یې زړه ودرېد او د ۱۹۹۷ ز کال د اګسټ په شپاړسمه یې د مرګ خبر خپور شو. جسد یې فیصل اباد ته ولېږدول شو او زرګونو کسانو یې په جنازه کې ګډون وکړ. د ده مېرمن ناهید د نصرت تر مړینې وروسته کاناډا ته لاړه او هلته په ۲۰۱۳ ز کال کې مړه شوه. دمګړی د نصرت فتح علي خان خورېیر راحت فتح علي خان د دوی د موسیقۍ د کورنۍ ځای ناستی دی چې ښایي ډېر یې له غږ او غزلونو سره اشنا وي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۲۵ |
| € | ۸۵,۱۰ |
| Rp. | ٤٦٥ |
| ₹ | ۹۷۰ |
| ¥ | ۱۰,۸۰ |
| £ | ۹۳,۲۰ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# لس مهم مالي ټکي چې هره جوړه باید پرې پوه شي

ژباړه: عطامحمد میاخېل

ډېرې جوړې د کورنۍ د مالي مدیریت له ننگونو سره مخ کېږي، کله چې په مالي مسایلو باندې لومړی اختلاف رامنځ ته کېږي، د مالي ستونزو له امله د گډ ژوند د اختلافاتو لومړنی زنگ وهل کېږي.

په دې مقاله کې تاسو ته وایو چې څنگه په ځیرکې پروگرام جوړونې سره د دې پیښو مخه ونیسی. ډاډه اوسئ چې هېڅکله د مالي مدیریت د ناسمو تگلارو د سمون لپاره ناوخته نه دی.

په یوه کورنۍ اړیکه کې پیسې ډېر زیات ارزښت لري. پیسې دغه مسایل لکه: غرور، وړتیا، د یو بل د ژوند ستونزو حل کول او له خپلو مشخصو محدودیتونو سره کار کول په بر کې نیسي.

پیسې کولای شي موقعیت ته مو بدلون ورکړي او په خُلق خوی باندې مو اغېزه وکړي. تر ټولو بده دا کله چې مالي ستونزو ته پام ونه شي، نو د مېرمنې او خاوند تر منځ احساسات پیکه کېږي.

بریالۍ جوړې پوهېږي چې پیسې او مالي مدیریت څومره د دوی په ژوند باندې اغېزه لري او تل داسې کار کوي چې پیسې یې په خدمت کې وي، مهمه نه ده چې څومره وخت یې له گډ ژوند څخه تېرېږي، کله چې د مالي مسایلو خبره رامنځ ته کېږي، خبر اوسېدل تل ارزښت لري.

که له دې سپارښتنو څخه په مسلکي توگه کار واخلی، نه یوازې تاسو او د ژوند شریک مو د ژوند لگښتونه پوره کولای شی، بلکې خوشاله او دوامداره ژوند به هم ولری.

۱ - ربښتیني واوسئ او هر څه په رڼه او شفافه توگه بیان کړئ

مخکې تر دې چې وغواړی د کومې موضوع لپاره پروگرام جوړ کړی، باید د خپلو لگښتونو د عادتونو په اړه له یو بل سره ربښتیني واوسئ. دا کار له تاسو سره مرسته کوي چې د یو بل هیلې او تمې پوره کړی او ژوند مو پرته له کومې ستونزې پرمخ یوسئ.

۲ - مالي موخې ولرئ

که غواړی له مالي پلوه بریا ته ورسېږی، ډېره مهمه ده چې په یوه لوري گام پورته کړئ. آیا موخه مو دا ده چې د کال تر پایه موټر واخلی یا د کال په اوږدو کې مالي خپلواکۍ ته ورسېږی؟ آیا د یوې سترې پانگونې په لټه کې یاست؟ که په راتلونکې کې د خپلې خوښې وړ مقام ته د رسېدو په لټه کې یاست، نو له همدا اوسه ورته پروگرام جوړ کړئ.

۳ - یو جلا او یو گډ بانکي حساب ولرئ

د گډ حساب لرل په دې مانا دي چې گډ پس انداز لری او کولای شی د خپلو موخو د پر مخ بیولو لپاره ترې گټه واخلی. دا گډ حساب د ورځنیو لگښتونو د ورکړې سرچینه نه ده، جلا حساب پرانیزئ، په دې کار سره د خپلو پیسو د لگولو لپاره آزادي لری او په عین حال کې کولای شی د خپلو گډو موخو لپاره پس انداز وکړی.

۴ - د بودیجې لپاره په گډه تصمیم ونیسئ

کله چې خپل گډ ژوند پیلوی، له یو بل سره کېنئ او د مالي مسایلو په اړه خبرې وکړئ، دا کار له تاسو سره مرسته کوي څو د هغو شیزونو په اړه وړاندوینه وکړی چې اړتیا ده، لپاره یې پیسې مصرف کړی.

۵ - په پور اخیستل شوې پیسې ببرته ورکړئ

په گډ ژوند کې دا حق نه لری چې له یو بل څخه پیسې په پور واخلی، پرته له دې چې د ورکړې په فکر کې یې واوسی، نو د هغو پیسو ورکړه کومې چې په پور مو اخیستې دي، مهمه نه ده چې څومره وخت ونیسي، مقابل لوري ته د درنښت نښه ده، هغه څه چې د ژوند په اوږدو کې به ورته ډېره زیاته اړتیا ولری.

٦ - پر خپلو حسابونو باندې څارنه وکړئ

هڅه وکړئ چې په منظمه توگه خپل لگښتونه یادښت کړئ، حتی که کوچنی لگښت وي بیا یې هم ولیکئ. په اوني یا میاشت کې د لگښتونو څارل، له تاسو سره مرسته کوي چې د هغو پر بنسټ خپل ژوند تنظیم کړی.

۷ - د نه وړاند ویل شویو پېښو لپاره پس انداز وکړئ

د گډ ژوند له پس اندازونو څخه جلا، د نه وړاند ویل شویو ستونزو لپاره پس انداز کول تاسو ته دا امکان برابروي که په ژوند کې مو کومه داسې پېښه رامنځ ته شوه چې په کم وخت کې د ډېرو پیسو لگولو ته اړ وی، خواشیني نه شئ او له کومې اندېښنې پرته لگښت وکړی.

د بیړنیو حالاتو لپاره د بودیجې لرل، د دې سبب گرځي چې لگښتونه ورکړی او پرته له دې چې ژوند ته مو کوم زیان ورسېږي، لومړني حالت ته بېرته را وگرځی.

۸ - له نېټه ایزو (قسطي) پلورنو څخه گټه واخلئ

د هغو وسایلو لپاره چې په نغدو پیسو یې نه شی اخیستلی، د هغو پلورنځیو په لټه کې شئ چې په نېټه ایزه توگه خپل توکي پلوري. البته د آسانتیاوو د گټې اندازه محاسبه کړئ، څو د بازار له بیو سره سمون ولري او هېڅکله په هغې بیه باندې چې پلورونکی یې وایي، باور مه کوئ.

۹ - د پیسو د ورکړې نېټه یادښت کړئ، څو هېره مو نه شي

د خپل گرځنده ټلیفون له مهالوېش څخه گټه واخلئ او د خپلو قسطونو د ورکړې نېټې یادښت کړئ، په ځانگړې توگه بانکي قسطونه، ځکه د بانکي قسطونو په ورکړه کې ځنډ جریمه لري او دا جریمه کولای شي کورني اقتصاد ته زیان واړوي.

۱۰ - د خپلې بودیجې په اندازه لگښت وکړئ

د خپلې مالي گټې برید او اندازه په پام کې ونیسئ او د خپلې بودیجې په اندازه لگښت وکړئ، په دې کار سره به ډېره آرامتیا او آزادي ولری.

## ملي امنیت شورا: تېره اونۍ په تېرو ۱۹ کلونو کې تر ټولو خونړۍ وه

ملي امنیت شورا وایي، تېره اونۍ په تېرو ۱۹ کلونو کې د وسله والو طالبانو لخوا د تاوتریخوالي ترسره کېدو له اړخه تر ټولو خونړۍ وه.

امنیت شورا په یوې اعلامیې کې ویلي چې په دې اونۍ کې د وسله والو طالبانو په بریدونو کې ۸۴۱ افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو ته مرگ ژوبله اوښتې ده. په اعلامیه کې راغلي: «د طالبانو په حملاتو کې ۲۹۱ ملي امنیتي او دفاعي ځواکونه شهیدان او ۵۵۰ نور زخمیان شوي دي.»

سرچینې دغه راز زیاته کړې چې طالبانو د دې ترڅنگ په تېره یوه اونۍ ۱۴۸ ملکي وگړو ته هم مرگ ژوبله اړولې ده.

ملي امنیت شورا وایي چې افغان ملي امنیتي او دفاعي ځواکونو ته دغه مرگ ژوبله د هیواد په ۳۲ ولایتونو کې اوښتې ده.

په اعلامیه کې راغلي: «دا په تېرو ۱۹ کلونو کې د تاوتریخوالي له اړخه تر ټولو خونړۍ اونۍ وه، دا اونۍ په داسې حال کې تر ټولو خونړۍ ده چې طالبانو ژمنه کړې وه چې د افغانانو خلاف به تاوتریخوالی کموي او د سولې لپاره به کار کوي.»



د ملي امنیت شورا زیاتوي، د طالبانو بریدونه دا څرگندوي چې دغه ډله د تاوتریخوالي کمولو په اړه کړو ژمنو کې پاتې راغلې او د سولې په اړه یې ښه نیت نه دی ښودلی.

دغې شورا سولې ته د رسېدو لپاره د طالبانو لخوا د تاوتریخوالي پر کمولو ټینگار کړی او زیاته وې چې د د تاوتریخوالي له کمښت پرته د سولې راتگ له ځنډ او ځنډ سره مخ کیږي، خو وسله والو طالبانو تر دې مهاله په دې اړه څه نه دي ویلي.

دا په داسې حال کې ده چې په افغانستان کې د رواني جگړې د پای ته رسېدو په موخه امریکا، ناټو، ملگرو ملتونو او اروپایي ټولنې د ښکېلو اړخونو ترمنځ د اوربند ټینگېدو او تاوتریخوالي کمېدو غوښتنه کړې ده.

د یادونې ده چې په دې وروستیو کې د سولې اړوند په کور دننه او بهر هیلهمندۍ زیاتې شوې او افغان حکومت له طالبانو سره د بین‌الافغاني خبرو اترو د پیل لپاره د باور د فضا رامنځته کېدو په هدف د تاوتریخوالي پر کمښت ټینگار کوي، خو طالبان بیا د دغو مذاکراتو د پیل لپاره د خپلو بندیانو ازادول شرط گڼي.

د افغانستان د ملي امنیت شورا دفتر که څه هم دا یو مخکنی شرط نه بولي، خو وایي چې وړاندې یې له طالبانو غوښتنه کړې چې ورسره ټول بندیان دې خلاص کړي.

د دغه دفتر ویاند جاوېد فیصل ازادي راډیو ته ویلي چې د دوی له لوري له درې زرو زیات طالبان هم له بنده خوشې شوي، خو په خبره یې د دواړو طرفونو د بندیانو دقیق شمېر باید نهایي شي.

طالبان هم مني چې د دوی له لوري د افغان حکومت اړخ ته ټول بندیان ازادوي.

د دغې ډلې ویاند ذبیح‌الله مجاهد ویلي چې له دوی سره اوس محدود شمېر بندیان پاتې دي او دا ټول به له بنده ازادوي.

## بهرنیو چارو وزارت: له ایراني لوري سره د افغان کډوالو د وضعیت د ښه کېدو په اړه هوکړې شوې

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت ایران ته د بهرنیو چارو وزارت د سرپرست د سفر په مهال د افغان کډوالو د وضعیت د ښه کېدو په اړه د کابل او تهران ترمنځ د هوکړې خبر ورکړی دی.

د بهرنیو چارو وزارت ویاند گران هېواد خبریالانو ته په یوه استولي پیغام کې ویلي چې په ایران کې د مېشتو افغان کډوالو د گټو څخه دفاع او ساتنه او هم افغان کډوالو ته د وروستي پېښ شوي وضعیت تعقبول تهران ته د افغان لوړپوړي پلاوي د سفر په اهدافو کې شامل موضوعات دي.

هېواد ویلي چې ایراني چارواکو د افغان کډوالو د وروستیو پېښو په اړه خپلې ځیرنې له افغان پلاوي سره شریکې کړې او دواړو خواوو په راتلونکې کې د دغسې پېښو د مخنیوي لپاره پر اقداماتو موافقه کړې ده.



دا په داسې حال کې ده چې د ایران د یزد په ښار کې د افغان کډوالو پر موټر د ایراني پولیسو ډزې چې له امله یې درې تنه افغان کډوال وژل شوي او پنځه نور ټپیان شوي او هم د ایران او افغانستان د سرحد په اوږدو کې د هریرود په سیند کې د افغان کډوالو د غرق کېدو مسئله چې له امله یې شاوخوا ۱۵ افغان کډوال مړه او ۱۷ نور لا درکه شوي، ایراني سرحدي ځواکونه د دغو دواړو پېښو کې تورن گڼل شوي دي.

افغان حکومت د دغو پېښو د څېړنې او ایراني چارواکو سره پر دغو مسئلو د بحث لپاره د یکشنبې په ورځ د افغانستان د بهرنیو چارو د وزارت د سرپرست محمد حنیف اتمر په مشرۍ یو لوړپوړی دولتي پلاوی ایران ته استولی دی.

د بهرنیو چارو وزارت ویاند گران هېواد د ایراني چارواکو سره د افغان پلاوي د خبرو په اړه ویلي: «د ایران اسلامي جمهوریت له خپله اړخه په ایران کې د مېشتو افغانانو سره د ښه او زغم وړ چلند په هکله ډاډ څرگند کړی. دواړه خواوې د یزد په پېښه کې د مړو شوو افغان کډوالو او ټپیانو په عزت سره د انتقال په برخه کې موافقه وکړه».

د هېواد په وینا، د دواړو هېوادونو ترمنځ د سرحد د امنیت پیاوړي کېدل او د انساني قاچاقبرانو پر وړاندې د گډې مبارزې او د سرحد په اوږدو کې د غیرقانوني تگ راتگ د مخنیوي لپاره هم دواړو هېوادونو د سرحد د مدیریت په اړه موافقه کړې ده.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer
New Vision, New Journey
Daily






سه شنبه د ۱۳۹۹ د چنگاښ درېيمه | د ۲۰۲۰ د جون ۲۳مه | ۵۵۵مه ګڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳۵ | ۲۹ |
| ۱۳ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۷ | لمر ختل ۰٤:٤۲ | ماسپښين ۱۱:۵۷ | مازيگر ۰۳:٤۳ | ماښام ۰۷:۱۱ | ماخوستن ۰۸:۵٦

## نړۍ




۳

## ټرمپ: د پُست له لارې ټاکنې به د امريکا لپاره يوه رسوايي وي



د امريکا ولسمشر دونالډ ټرمپ د دغه هېواد د ۲۰۲۰ ز کال د ولسمشرۍ په ټاکنو کې رايه ورکوونکو ته د پست له لارې د انتخاباتي پاڼو د استولو سره يو ځل بيا مخالفت کړی دی.
دا په داسې حال کې ده چې په امريکا کې د کرونا ويروس د مثبتو پېښو پر زياتېدو سره د را روانو ټاکنو لپاره مقدماتي مبارزې هم پيل شوي دي.
په دغه لړ کې پر دې هم بحثونه کېږي چې بايد رايه ورکوونکو ته انتخاباتي پاڼې د پست له لارې واستول شي چې په ټاکنو کې برخه واخلي. د دغې نظريې پلويان وايي چې په دې کار سره به د رايې اچونې په مرکزونو کې د ګڼې ګوڼې او د کروناويروس د خپرېدو مخه ونيول شي، خو ولسمشر ټرمپ دا نظر نه مني. هغه په يوه ټويټ کې ويلي: «بهرني هېوادونه او نور به ميليونونه انتخاباتي پاڼې چاپ کړي.» ټرمب خبرداری ورکړی چې د پست له لارې ټاکنې به زموږ د وخت يوه رسوايي وي.
نوموړي تر دې مخکې ويلي وو چې که د پست له لارې انتخاباتي پاڼې واستول شي، د رايو صندوقونه به غلا، جعلي پاڼې به چاپ او تقلبي امضاګانې به پرې وشي.
د يادونې ده چې د امريکا د متحدو ايالتونو د ولسمشرۍ ټاکنې به د روان کال د نومبر په درېيمه نېټه کېږي. د ولسمشر ټرمپ لوی انتخاباتي سيال به د ډيموکراټ ګوند نوماند جوبايډن وي.

## راپورونه: په امريکا کې د يوه وسله وال کس په ډزو کې نهو کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده

د راپورونو له مخې، د امريکا په کارولينا ايالت کې يو وسله وال کس په ډزو دوه کسان وژلي او اووه نور يې ټپيان کړي دي.
چارواکو ويلي چې دغه پېښه د کارولينا ايالت په ستر ښار مېکلنبرګ ښار کې رامنځته شوې چې په پايله کې يې دوه کسان وژل شوي او اووه نور ټپيان دي.
د ياد ايالت پوليسو ويلي چې تر پېښې وروسته په اړو دوړ کې پنځه نور کسان موټرو هم وهلي دي. د پوليسو په خبره، ټپيان يې روغتونونو ته لېږدولي او روغتيايي وضعيت يې د اندېښنې وړ نه دی.
پوليس وايي، داسې ښکاري چې بريد يوه نه، بلکې څو کسانو کړی دی او د انګېزې په اړه يې څېړنې پيل شوې دي. راپورونه وايي، وسله وال په تېښته بريالي شوي او پوليسو يې د نيولو په موخه د پلټنې عمليات پيل کړي دي.
دا په داسې حال کې چې په امريکا کې د يوه سپين پوستي له لوري د تورپوستي ځوان تر وژنې ورنې وروسته په متحده ايالتونو کې وسله والو کسانو له خوا پر پوليسو او عامو خلکو د ډزو په پېښو کې د پام وړ ډېروالی راغلی دی.


## ثابت: برای از بین بردن فساد در وزارت مالیه باید مهره‌های اصلی فساد جستجو و به کیفر برسند




معین پیشین وزارت مالیه اقدامات اخیر ریاست جمهوری را در برابر کارمندان وزارت مالیه برای جلوگیری ازفساد دراین وزارت سودمند نمی‌داند و می‌گوید که در این بخش باید مهره‌های اصلی فساد جستجو شوند و به کیفر برسند. از سویی هم شماری ازحقوق دانان می گویند که کارمندان پایین رتبه نباید قربانی عملکرد نادرست ماموران بلند پایه گردند. پس از نشر گزارش ها از دو مورد جداگانهء وضع محدودیت ها برسفر کارمندان وزارت مالیه از سوی ارگ، معیین پیشین وزارت مالیه میگوید که اگر این تصمیم برای جلوگیری از فساد در وزارت مالیه باشد برای حل این معضل هیچ سودی نخواهند داشت. گل مقصود ثابت، معین پیشین عواید وگمرک های وزارت مالیه گفت: «اگر این اقدام برای جلوگیری از فساد باشد مؤثر نخواهند بود بل مشکلات بیشتری را ازلحاظ حقوقی به دیگر کارمندان بوجود میارد.» شماری از نماینده گان مردم نیز رهبری پیشین وزارت مالیه را به حیف ومیل درآمد ها دراین وزارت متهم میسازد. آنان می گویند که ارگ درآن زمان هیچ واکنشی دراین بخش نداشته است. کریم اتل عضوولسی جرگه گفت: «در زمان که وزیر این وزارت به څارنوالی معرفی شده بود هیچ اقدامی نشد اما اکنون بسیاری ازکارمندان دیگر با محدودیت ها روبرومیشوند به چی معنی است این موضوع.» پس از درز فهرست شصت وهشت نفری کارمندان بلند پایه وزارت مالیه که به دستورشفاهی رییس جمهور ممنوع الخروج اعلام شده بودند ، ریاست جمهوری با نشریک نامه رسمی دیگر سفرهای رسمی کارکنان تا بست پنجم این وزارت راوابسته به اجازه ریاست جمهوری گفته است.

## ژوند

## پلی تګ او ګټې يې



څېړنو ثابته کړې هغه کسان چې پلي ګرځي، وينه يې په جريان راځي، له شکر ناروغۍ په امن کې وي، له تنفسي ناروغيو سره نه مخ کېږي او تر ټولو ښه دا چې خوړلې ډوډۍ يې ژر هضمېږي او د هاضمې په سيسټم کې له ګډوډيو سره نه مخ کېږي. يوې نوې څېړنې ثابته کړې چې هره ورځ ۴۰ قدمه پلي تګ د ورزش په موخه انسان روغ، ځوان او غښتلی ساتي. ډېر عمر لرونکي کسان چې دغه عادت يې خپل کړی، په ۷۰ کلنۍ کې هم د غښتلتيا احساس کوي. ۴۰ قدمه پلي تګ نورې ډېرې ګټې هم لري او انسان له ډېرو ناروغيو ژغوري، خو د امريکا په کلوراډو پوهنتون کې شوې دغه نوې څېړنه ښيي چې پلي تګ د هغو کسانو لپاره هم خوراً ګټور دی، چې عمرونه يې خوړلي دي؛ ځکه په لوی عمر کې هم پلي تګ د انسان د بدن مقاومت ډېروي او د ناروغيو په مقابل کې يې قوي ساتي.

## هر ګام په دقت واخلئ!

ژوند ښوونځی دی، په دې ښوونځي کې موږ ټول زده کړه کوو، د ژوند له هرې پېښې يو درس او عبرت اخلو، که خپله او يا هم بل څوک يو کار وکړي او پايله يې ناوړه وي، له هغه څخه فاصله نيسو. لکه څنګه چې نېکي لويه او کوچنۍ لري، همداسې بدي هم کوچنۍ او لويه لري، د دوی دواړو پايلې متفاوتې دي، د دوی مسووليت او تلافي هم توپير لري، د وړې تېروتنې تلافي اسانه کېږي او د لويې هغې بيا ګرانه وي. نو ښه ده چې هر ګام په پوره دقت او هنر واخيستل شي او داسې عمل تر سره نشي چې بيا يې جبران کول سخت وي.
د ژوند ځينې درسونه بيا داسې وي چې د ژوند عمومي مسير ټاکي، لکه کوم کار چې په اړه يې فکر کوی، له هغه څخه چټک او اسانه کولی شی.




ماستر ډېټ کارت

د عزيزي بانک ماسټر ډېټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتياوو او شرايطو سره سم ډيزاين شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پيسو ته لاسرسی لرلی شئ.
- په ټوله نړۍ کې له 25 ميليون ډېرو سوداګريزو مرکزونو/پلورنځيونو کې د منل کېدو وړتيا لري.
- د دې لپاره چې ژر پيسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشينونو ګټه اخيستلی شئ.

1515 | www.azizibank.af

